سمسور ودان
۲۰۲۶/۱۰/۲۰

# د سوچ فرق

د ۲۰۱۹م کال خبره ده، د هندوستان د (کافي چین) شرکت سخت تاواني شو، تر دې چې قرضونه يې ۷۰۰ کروړو ته ورسېدل او بيا له خيره کرونا هم شروع شوه، څښتن (سدهارت) ته يې داسې ښکاره شوه چې اوس نو د نېکمرغی تولې دروازې بندې شوې، هماغه و چې خودکشي يې وکړه.

ملاویکه کرشنا چې د سدهارت مېرمنه وه، په وراثت کې يوه تاواني کمپنۍ، مشکل حالات او د خاوند جدايي ورپاتې شول، خو بيا يې هم ځان وژنه ونکړه، د شرکت چارې يې په لاس کې واخیستې، ضايع کېدونکي مشينونه يې بند کړل، نوي پانګه اچوونکي يې قانع کړل چې په دې لوی شرکت کې پانګونه وکړي.
نوې لارې چارې يې وسنجولې، اتومات ماشینونه يې ولګول او يو نوی سفر يې پیل کړل.

نن هغه شرکت چې د ۷۰۰ کروړه تاوان ښکار و، ټول ارزښت يې ۱۷۰۰ کروړو څخه زيات دی.
په ټول هيواد کې ۵۷۲ مرکزونه او ۳۶۰۰ د کافي لیږلو اتومات ماشینونه لري.

د دې ځو کلونو توپير څه و؟ بس همدا سوچ! يو تن ته بندې دروازې د پای او بل ته د نويو دروازو پرانيستلو په معنا وې.

که تاسي ورو ورو ناکامېږئ او د کاميابی کومه لاره نه وينئ، نو کومه نوې دروازه پرانيزی او په فرسوده سوچ مو لعنت ووايئ!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ